Calgary

# د کووېډ-19 د واکسیناسیون معلومات

## دکووېډ-19 وړیا واکسینونه د مستحقو کلګري اوسېدونکو لپاره شتون لري.

د واکسین په اړه پوښتنې درلودل سمه خبره ده. د خپل ډاکټر یا د یوې غورې سرچینې لکه د کاناډا د روغتیا وزارت او د البرټا د روغتیایی خدمتونو د ادارې (AHS) څخه معلومات ترلاسه کړئ. د واکسین د ګټو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د **canada.ca/vaccines** څخه لیدنه وکړئ.

دغه ایالت هغه خلک لومړی واکسین کوي چې د سختې ناروغۍ خطر سره مخ وي. که تاسو دمخه یو پام وړ حالت ولرئ نو **alberta.ca/vaccine** څخه لیدنه وکړئ او یا خپل ډاکټر یا درمل پلورونکی (فارمسیسټ) سره خبرې وکړئ.

هرڅومره ژر چې مستحق یاست، واکسین وکړئ. دا چې تاسو کله مستحق یاست د**alberta.ca/vaccine** څخه ومومئ. دقیق مهال ویش د واکسین رسولو پورې اړه لري.

## ولې باید واکسین وکړئ؟

واکسین زموږ د معافیت سیستمونه د انتي باډي په جوړولو سره پیاوړي کوي ترڅو د ناروغیو څخه مخنیوی او په له منځه وړلو کې مرسته وکړي. څکه چې کووېډ-19 نوی ویروس دی، هیڅوک طبیعي معافیت نلري. د معافیت ترلاسه کولو لپاره دا ډېر خوندي او اغیزمن دئ چې واکسین وکړئ تر دې چې په ناروغۍ اخته شئ.

واکسیناسیون یو دخپلې خوښې کار دئ مګر واکسین کول موږ او نور خوندي ساتي او ډاډ ترلاسه کیږي چې موږ ژر تر ژره عادي حالت ته راستون شو. که تاسو واکسین وکړئ دا کېدای شي چې ستاسو د اخته کېدو څخه مخنیوی کې مرسته وکړي او تاسو د سختو ناروغیو څخه خوندي وساتي.



## څوک باید واکسین شي؟

**د البرټا هر اوسېدونکی چې مستحق وي باید واکسین شي.** که چېرې تاسو د کووېډ-19 څخه روغ شوئ هم یاست بیا هم تاسو باید خپل معافیت ته وده ورکولو لپاره واکسین وکړئ.

که تاسو د البرټا د روغتیا پاملرنې کارت نلرئ، لاهم واکسین ترلاسه کولای شئ. د اپاینټمنټ د اخستلو لپاره 811 ته زنګ ووهئ.

د واکسین ترلاسه کولو لپاره تاسو د کاناډا تابعیت ته اړتیا نلرئ، یوازې یوه پیژند پاڼې ته اړتیا شته. د منل شوي پیژندپاڼو د نوملړ لپاره د **alberta.ca/vaccine** څخه لیدنه وکړئ.

## د واکسین کېدو وروسته څه پېښېږي؟

تر هغه چې ډېری د البرټا اوسېدونکي د واکسین لخوا خوندي شي، موږ باید د عامې روغتیا دټولو لارښوونو پلي کولو ته دوام ورکړو:

- دماسک اغوستل؛
- دوه متره واټن ساتل؛
- خپل لاسونه وینځل؛ او
- تر هغه وخت چې ناروغ یاست په کور کې پاتې کېدل.

کله چې تاسو د خپل دوهم واکسین ډوز لپاره مستحق یاست، AHS به تاسو ته خبر درکړي.

## مرسته

- که تاسو د ناروغۍ نښې لرئ باید کور کې پاتې شئ او معاینه شئ. د ټسټ د آنلاین نوم لیکنې لپاره د **alberta.ca/COVID19** څخه لیدنه وکړئ یا 811 ته زنګ ووهئ.
- که تاسو د ناروغۍ له کبله د کار کولو توان نلرئ، د نورو څخه بېلېدو (قرنطین) ته اړ یاست یا د یو بل چا چې په قرنطین کې وي پاملرنه کوئ، کېدای شی تاسو ته مالي مرسته شتون ولري. د نورو معلوماتو لپاره **811** ته زنګ ووهئ.
- که تاسو د کووېډ-19 له امله قرنطین ته اړیاست مګر خپل په کور کې داسې نشی کولای، تاسو ته په هوټل کې وړیا کوټه او مالي مرسته شتون لري. د نورو معلوماتو لپاره **211** ته زنګ ووهئ.

## مرستې ته اړتیا لرئ؟

**811** ته زنګ ووهئ ترڅو معلومه کړی چې کله تاسو مستحق یاست او د اپاینټمنټ غوښتنه وکړئ. په 240 ژبو کې خدمتونه شتون لري.

خپل په مورنۍ ژبه کې د کووېډ-19 د مرستې لپاره **1-833-217-6614** ته زنګ ووهئ.

## سوارۍ (ټرانسپورټ) ته اړتیا لرئ؟

د واکسین کولو د اپاینټمنټ ته تګ او بېرته راتګ د ټرانسپورټ د مرستې ترلاسه کولو لپاره **211** ته زنګ ووهئ.

21-0013015 ADV-8884